مصطفی پسرلی

۲۰۱۹/۰۴/۳۰

# غزل

## د اوښکو سیلابونو

ته ما نه نا خبره زه له تا نه ناخبره
بلا مو خوري لګیا ده، یو بلا نه ناخبره

داغونه د نفاق زمونږ په زړونو باندې جوړ دي
درمل یې موندی نه شو له شفاء نه ناخبره

کوي سوداګري، سوداګران مو په سرونو
یو ښکیل په دسیسه کې ماجرا نه ناخبره

د زهرو پیچکاری راته مزغو کې همیش کاندي
دا څوک دي نه پوهیږم له رښتیا نه ناخبره

د ژوند خواږه مې یوړلو د اوښکو سیلابونو
ژړا سره عادت شوم له خندا نه ناخبره

ړانده کله لیدی شي پسرلیه ستا ښائیست
د ګلو تماشي او له ښکلا نه ناخبره

یادونه: که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!

اوښکو سیلابونو (غزل)
mostafa_p_de_oshko_selaaboona.pdf